مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولي ارين

۲۰۱۹/۰۹/۰۵

# سوله که د ټاکنيز کمپاين هلې ځلې؟

ټولو ته جوته ده چي په امريکا کې په راتلونکی کال کې د جمهوری رياست له پاره ټاکنې تر سره کيږی. ځرنګه چي جمهور رئيس ټرامپ په تيرو ټاکنيز کمپاين کي امريکايانو ته ژمنه کړی وه چي له افغانستانه به خپلی قوواوی باسی، نو د همدی وعدی سره سم يې په افغانستان کي د سولی تر نامه له طالبانو سره خبری پيل کړی.
غواړم څو اړينو ټکو ته د هيوادوالو پام راوړم چي امريکا په هيڅ ډول نه غواړی چي په سيمه کي خپل پخواني ستراتيژيک انډيولان د افغانستان له پاره له لاسه ورکړی:

بايد په ټا کيد سره ووېل شي چي د افغانستان له پاره د سولی پروګرام چي د متحده ايالاتو د ځانګری استازی زلمی خليل زاد او طالب مشرانوله لوری په نهو پړاونو که تر سره شو؛ د امريکا له پاره هدف نه، بلکه يوه وسيله وه او ده. ځکه چي خليل زاد په وار - وار ويلی دی چي موږ ته د امريکا ګټی په لمړی ګام کي ارزښت لری او بيا وروسته په سيمه کي زموږ د ستراتيژيکو دوستانو.
د دی له پاره چي په افغانستان کي د سولی راتګ د امريکا له پاره هدف نه، بلکي وسيله ده څو مهمو ټکو ته اشاره کوم:

ـ امريکا د افغانستان له دولت سره ستراتيژيک او امنيتي تړون لری چي د بن د کنفرانس نه بيا تر ننه يې د دغه تړون حتا ۵۰ سلنه مواد نه دی عملی کړی کوم چي يې عملی کړی يوازی هغه څه دی چي د امريکايانو ګټی او موخی تمثيلوی او کومی چي د افغانستان د امنيت، ارضی تماميت ،اقتصادی پرمختيا ، مخدره توکو د له منځه وړلو، ښې حکومتولی، مسلحو قوواو پياوړتيا او نورو انکشافی پروژو په هکله چي هيواد له بحران نه کښلی شي، هيڅ عملی ګام تر سره کړی نه دی.

ـ د افغانستان دولت وار ـ وار دا د لاسوندونو په وړاندی کولو سره دا په ډاګه کړی چي په افغانستان کي د جنګ د دوام تمويلی مرکزونه په پاکستان کي دي، مګر امريکا په دی هکله داسی عملی ګامونه چي د امنيتي تړون له لوری يې دنده ده، عملی ګام نه دی پورته کړی او تل يې نسبت له افغانستان نه پاکستان ته لومړيتوب ورکړی دی.

ـ له طالب چاراواکو سره د سولی د خبرو د مخه بايد په ټولو جزئياتو لمړی له افغان دولت او افغان ولس سره چي د جنګ اصلی قربانيان دی، خبری او مشوری ترسره شوی وای. د افغان دولت، سياسيونو، اپوزيسيون او سياسی ګوندونو اجماع او تفاهم د سولی د ټينګښت لمرنی شرط و چي زما له انده دا کار امريکا يانو په اګاهانه توګه تر سره نه کړ .

ـ که چيری ريښتيا هم امريکا په افغانستان کي د سولی ثبات نيت درلود، نو د طالبانو د دی غوښتني په هکله چي نه غواړی د افغان دولت سره خبری وکړی، له پيل نه بايد خپل دريځ اومخالفت ښودلی وای؛ ځکه چي که افغان دولت سره چي د جګړی يو اړخ دی خبری نه کوی، نو له چا سره بايد خبری وکړی.

ـ په روسيه، دوحه او پاکستان کي د افغان سياسيونو غونډی د طالبانو د هيئت ځرګندوالی د دولت له شتون نه پرته دا په خپله هغه برنامی اوتاکتيکونه وو چي د افغانستان سياسی واکمنی تر سوال لاندی راولي او د افغانانو ملی يووالی کمزوری کوي او د طالب شتون ته نړيوال ارزښت ورکوي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

ـ د نهو پړاونو خبرو اصلي جزئيات تر اوسه لاهم سم او پوره له افغان دولت سره شريک نه شول، حتا چي مسوده يي دا اوس هم افغان دولت ته په لاس ورنه کړل شوه چي سياسي اجماع او ولس ته يي د مشورى له پاره وړاندى کړى.

ـ دا چي د نهم پړاو په خبرو کي ځينى هغه څه د اوريدلو دى چي اوسني افغان دولت او نظام نفى کوي، دا هغه څه دى چي زما په اند افغان ولس او موجود سياسي نظام بايد جدى پاملرنه ورته وکړي او سياسي هوښيارى نه کار واخلي.
تر ۱۹کلنى داسي يوى تباه کونکى جګړى وروسته چي افغانانو په کي خپل هر څه له لاسه ورکړي او دا جګړه امريکايانو د طالبانود اسلامى امارت د راپرزولو په خاطر پيل او تر اوسه دوام لري؛ که چيرى دا ګرى امريکايان د سولى ترون د اسلامى امارت په نامه امضا کوأ، نو ټول افغانان که يوه زره افغاني وينه هم په رګونو کي ولري، بايد په يوه خوله له امريکا نه دا وضاحت وغواړي چي دا دومره وحشتناکه، جګړه، تلفات، وژنى او ورانونى، ياني څه او د څه له پاره وى؟

ـ په افغانستان کي د امريکايانود دوه سره حکومت جوړول د يوه بحران د مخنيوى له پاره نه و، بلکي په راتلونکى کي د نوو بحرانونو د زيږولو او ستراتيژيکو موخو د عملى کولو د پلان برخه وه، لکه چي دا اوس د امريکا له لورى ولسمشر غنى ته ږګنال، که چيرى دى د امريکا د هوکړى مخالفت وکړى، نو امريکا د کارولو له پاره د سطرنج نورى مهري هم لري چي ممکن يو يي عبدالله عبدالله وي چي د اجرائيه مشر له موقف نه يي ګټه پورته کړى.

ـ په نهم پړاو کي د اسلامى امارت منل، اور بند نه تر سره کيدل، دا چي خليل زاد وائى :

**«چي د طالبانو په مقابل کي امريکا او افغان دولت دواړو جګړه وبايلله، د دى چانس کم دى چي ترمپ به په موافقتنامه کي تغير راولي، طالبان چا پورى تړلى راته نه ښکارى ملى روحيه لرى.»**

او داسي نورى ضد او نقيض څرګندونى د دى ښکارندوى دى چي د امريکا متحده ايالات له دى ۱۹ کلنى جګړى او اوسنى سولى نه يوازى د يوى وسيلي په توګه د خپلو سياسي او ستراتيژيکو موخو او په سيمه کي د خپل شتون له پاره ګټه پورته کړه او همدا اوس ټرامپ د خپل راتلونکى انتخاباتى کمپاين له پاره له طالبانو سره چي د همدى امريکايانو،انګريزانو، سعودى عرب او پاکستان ګډه پروژه وه او ده؛ بى له دى چي د افغانانو غوښتنى او ملى ارزښتونه په نظر کي ونيسى، معاملى تر سره کوى او زموږ ګران هيواد د يو بل ستر بحران لور ته کشوى.
اساسى سوال دلته دى چي د امريکا اته سفيران، په لوړه کچه يو شمير سناتوران، جنرالان، د ملى امنيت رئيس، وزير خارجه او يو شمير نور د دغه تړون مخالفت کوى؛ مګر زموږ په هيواد کي يو شمير سياستوال، سياسى ګوندونه او په دولت کي اراکين د ولسمشرى نوماندان د اشرف غنى سره د دښمني او ضديت له امله، د ملى ارزښتونو د دفاع له ليکو ځان باسي او د امريکانو د دغو ضد افغانى کړنو پلوى کوى او يا په بى تفاوتى ورته ريى ـ ردى ګورى او مسؤليت يي د غنى او اوسني نظام په غاړه اچوى.

**ګرانو افغانانو!**

افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دى، که ورانيږى او يا نور هم د وړانيد کندى ته ټيل وهل کيږى، هر څوک چي ځانته افغان وائى، دردمن کيږى. راځئ چي خپلمنځى اختلافات يو خوا کيږدو، د خپل ګران هيواد او ټاټوبى د نجات په خاطر لاس سره يو کړو دا د ټولو افغانانو ګډ کور دى، ټول بايد په ګډه د هيواد ږغورني غږ پورته کړو، پرينږدو چي استعمارى ځواکونه او د هغوى لاسپوڅي زموږ پر هيواد او خلکو معاملى تر سره کړي. دا د هيواد د ږغورنى يوازنى لار ده.

د هيواد د ږغورني يوائنى لار، ملى يووالى دى.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنى د ليکنيزى بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ